ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**عمران خان**
ليکچرر پښتو څانګه لورالايي پوهنتون، لورالايي بلوجستان

# د ترينو لهجې د متلونو پس منظر تحقيقي څېړنه

**Imran Khan***
Lecturer Department of Pashto University of Loralai Balochistan

***Corresponding Author:** imrankhantareen2015@gmail.com

## Background of Tareeno Dialect's Proverbs

Tareeno is dialect of Pashto language. Which is spoken in Harnai as well as Sharag, Sinjaive, Chawter and Duki. Tareeno dialect has own folklore. But until now it's not documented. There are many proverbs in tareeno language, which have been collected and discussed with their meanings researcher in Pashto language in this research paper.

**Key Words:** *Folklore, Proverbs, Tareeno.*

فولکلور له دوو تورو څخه جوړ دی، لومړی (Folk) فولک معنا پوهه، لور (Lore) معنا اولس، يعني د اولس پوهه. د فولکلور (Folklire)معنا اولسي پوهه ده.

فولکلوري ادب د خپل ارزښت په وجه له يوه نسل څخه بل نسل ته خوله په خوله انتقالېږي. فولکلوري ادب له ټولنې څخه زېږي او په ټولنه کښي وده کوي. فولکلور د يوې ټولنې او قام شناخت وي. فولکلور او کلتور دواړه سره نږدې دي. البته فولکلور د کلتور يو جز دی. د فولکلور لمن تنګه ده، خو د کلتور لمن ډېره پراخه ده. د يوه قام په لويه کچه ژوند ژواک ته کلتور وئيل کېږي. فولکلور د انسان و دې نړۍ ته د راتګ سره سم په وجود کښي راغلی دی. کله نه چي انسان په دې نړۍ کښي هر څه ته

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

مجبوره شوئ دی او هغه يې په كومه طريقه ترلاسه كړي دي.په دغو كښي ځيني داسي څېزونه شته چي هغه د فولكلور برخه ګرځېدلي دي. فولكلور د خلګو د عقيدو او رواياتو پېژندني علم دی. په نړيواله توګه پوهانو فولكلور په ډيرو برخو وېشلی دی. لكه شفاهي فولكلور، غير شفاهي فولكلور او نيم شفاهي فولكلور.

په شفاهي فولكلور كښي سندري، ټوكي، موسيقي، محاورې، متلونه، سيمه ايز خواږه او سيمه ايز ادب.

په غير شفاهي فولكلور كښي لكه سيمه ايز هنرونه، سيمه ايزه موسيقي، سيمه ايزه خواږه، سيمه ايز ادب، سيمه ايزې اشارې.

په نيم شفاهي فوكلور كي خرافاتي عقيدې،پال، ستوري، سيمه ايز لوبې، سيمه ايزې نڅاوې او داسي نور..

" كلتور، ثقافت يا كلچر يا فرهنګ د ملتونو د تهذيب او تمدن نښانه ده. د ملتونو د كلتور پوړی (سطحه) هغه وخت موږ ته ښه څرګندېږي چي د هغو خلګو په فولكلور ښه وپوهېږو او د هغوی فولكلور سره ښه بلدتيا ولرو. كلتور يا ثقافت د انسان د ارتقايي ژوند او عمل يو مجموعي پانګه ده، چي د انساني ژوند له پيل څخه تر اوسه پوري ورو ورو را غونډ او خوندي شوي ده." (1)

په مادي فولكلور كښي لكه زموږ كالي، لوښي، لنګوټه، او داسي نور...... هر هغه شی په مادي فولكلور كښي راځي چي وجود لري. په غير مادي فولكلور كښي زموږ اولسي سندرې، ټپې، غاړې، مېندو سندرې، د ماشومانو سندرې، كيسی، سروكې، نارې، فالونه، انګی، د ښادی سندرې،بلندی، برغازې، منظوم متلونه، ساندې، نيمكی او داسي نور دا ټول په غير مادي فولكلور كښي راځي. ځيني بيا په غير مادي

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

فولکلور کښې راځي لکه عقیده، عنعنات، رويې او داسي نور.

"زموږ د ملت د لرغوني فرهنګ یوه سمسوره څانګه فولکلور ده. دغه کلمه فرانسوي رېښه لري. فوک د خلګو او لور د اوپوهې، یعني د پرګنو د پوهې په مانا ده.یا په بله معنا د ملت د عقیدو،افکارو، کیسو، آدابو، رسمونو، ترانو،ساده او ابتدايي هنرونو ته فولکلور وايي."(2)

فولکلور د یوه قام هنداره وي. د فولکلور له لارې د یوه قام کره وړ، تهذیب، تمدن، د مغوی سوچ، د ژوند اړتیاوي، د سباون دپاره تګلاره، د تېر وخت حال دا هر څه په فولکلور کښي له ورایه څرګندېږي.

**متل:**

متل هغه تراشل شوي خبري چې په یو څو تورو کښي پوره قیصه پرته وي. متل د خبري لنډیز وي. د هوښیار دپاره اشاره ده. د مجلس پرېکړه ده. د متل وئیلو سره د یوه انسان د پوهې لوړتیا او د هغه فکر معلومېږي. متل د خبرې پای وي. د متل مثال د هغه کاڼي دی چې له غره څخه ایله شي په مانده کښي روان وي چې له نورو ډبرو سره وهل کېږي او آخر ځیني د یوه غمي رنګه ښائسته ډبره جوړه شي. متل د خبرې پای وي. متل په مجلس کښي آساني پیدا کوي.

"متلونه د پښتو شفاهي ادب یوه غوره برخه ګڼل کېږي. دا متلونه له ډېرو پخوا څخه موجود او زموږ د نیکونو غوره، قیمتي، تللي او پخې وينا وې دي، چې د نکلونو په شان خوله په خوله تردې وخته را رسېدلي دي."(3)

د متل له لارې د یو چا خبره په درنېږي. د متل له لارې د یو چا د زده کړې سویه معلومېږي. کوم څوک چې په متل خبر وي، له دې څخه معلومېږي چې پوهه لري. متل پند او نصیحت وي.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03



که زه دا وایم چې په اسلام کښې چې حدیث کوم حثیت لري هغومره د یوه قام دپاره متل هم خپل ارزښت لري. ځکه چې متل جوړول هم د هر چا د وس کار نه وي. دا د پوهانو له خولې وتلې هغه ملغلرې دي چې نن زموږ دپاره د نصحت مثال لري. د انسان په ژوند کښې به داسې اړخ نه وي چې متل به پر نه وي جوړ شوی.

"متلونه په وینا کې خوږوالې او قوت پیدا کوي او عبارت پرې ښائسته کېږي. دا وجه ده چې شاعران او لیکوالان یې په خپلو ویناو کې راوړي او دا د بدیع په فن کې یو صنعت ګڼل کېږي."(4)

متل د فولکلور یو مهم اړخ دی. د متل له لارې د یوه قام د یوې علاقې تاریخي او تهذیبي پس منظر معلومېږي. د هر قام خپل متلونه دي. متل د لاشعور څخه وتلې خبرې دي. ځینې داسې متلونه دي چې د ټول قام وي خو ځینې داسې متلونه دي چې له علاقې سره اړه لري او له لهجې سره اړه لري. دا لاندې متلونه که څه هم د پښتنو نورو سیمو ته ورته متلونه دي خو بیا هم ځینې داسې متلونه شته چې په ځانګړي توګه د هرنایي او بیا په ځانګړي توګه د ترینو لهجې جوړ شوي متلونه دي. او هر متل خپل پس منظر لري. دلته به لاندې هر متل په ترینو لهجه کښې ولیکل شي او ورسره به په پښتو ژبه کښې ژباړل کېږي او پس منظر به یې هم بیان کړل شي.

"متلونه د ټولنې د اوسېدونکو د کلونو کلونو تجربو محصو دی، هغوی چې د خپل ژوند په اوږدو کې له تودو سړو او د ژوند له خوږو تر خو سره مخامخ شوي دي، خیلې تجربې یې د متلونو په بڼه راتلونکو نسلونو ته انتقال کړې دي."(5)

**د ترينو لهجې يو څو نامتو متلونه:**

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

ترینو چې د پښتو ژبې یوه خوندوره، خوږه او زړه لهجه ده.دا لهجه د هرنایي، شاهرګ، سنځاوی، چوتیړ او تر دوکی پورې وئیل کېږي. د دغه لهجې جغرافیایي حدود که څه هم کم دی خو بیا یې هم خپل وجود ژوندی ساتلی دی. ترینو د پښتو یوه ډیره زړه لهجه ده. پر دغه لهجه اوس هم ځینې پوهان دا دعوی لري چې دا لهجه نه بلکې ژبه ده. خو تر اوسه پر دې متفق شوي نه دي، چې دا لهجه ده که ژبه؟ البته زه دلته د ژبې پر ځای د لهجې نوم ځکه کارول غواړم چې دا یو جلا بحث دی چې دا لهجه ده که ژبه؟ د ترینو لهجې هر صنف دومره پراخ دی چې هر صنف یې جلا جلا مقالې ځای نسی. نو ځکه زه دلته یوازې پر متل کار کوم او د ترینو لهجې یا د هرنایي او خواوشا سیمو کښې چې کوم متلونه کارول شوي دي هغه به تر څېړنې لاندې راوړم. هرنایي د لیکلي ادب په حواله که څه هم له نورو سیمو څخه د ځانګړې لهجې په وجه څه پر شا ده ، خو بیا یې هم خپل فولکلوري ادب ژوندی ساتلی دی. خپلې غاړې، متلونه، سندرې، باندارونه، خبرګیزې، نکلونه، کیسی، په دیواني ادب کښې نظمونه، غزلې او داسې نور... دا بېله خبره ده چې په لیکلي بڼه کښې هغه رنګه مواد نشته څنګه چې پکار ؤ.

په ترینو لهجه کښې که څه اولسي ادب اصناف په نالیکلي بڼه کښې موجوده دي. خو په لیکلي بڼه کښې هومره نشته. که څه هم په ځینیو کتابونو کښې څه نه څه حوالې موجوده دي. خو د تحقیقي کار پر نه دی شوی. په ترینو لهجه کښې تر اوسه ادب نه شتون یوه وجه دا هم کېدای شي چې د هرنایي خلګ له زده کړې څخه لیرې پاته شوي که څه هم په نورو ځانګو کښې یې زده کړې کړې دي خو د ژبې په اړه یې څه نه دي وئیلي ځکه نو د خپلې ژبې د ارزښت څخه ناخبره دي. دومره شعور یې نه درلود چې په خپله ژبه کښې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

لیک کول، خپله ژبه خوندي کول څومره ارزښت لري. بله دا چي د هرنایي خپل قامي او سیاسي خلګو هم ورسره هغه مرسته نه ده کړي کوم چي پکار وه. ځکه چي هر وخت یوه ژبه خوندي کول، په کتابي بڼه کښي راوړل، او یوه رتبه ورته ورکول د سیاسي او باشعوره خلګو کار وي.

په دې لاره کښي د قامي شعور او سیاسي بیداري پکار ده. او د حکومت مرسته پکار ده. دا وېره هم محسوسوم چي که چیري و دغه لهجې ته پر وخت کار ونه شو نو امکان لري چي دغه لهجه به له مینځه ورکه شي. دا هم یو جلا بحث دې، زه به د خپلي موضوع و خوا ته راشم. په فولکلوري ادب کښ به دلته د ترینو لهجې یو څو هغه متلونه تر څېړني لاندي راوړم چي هغه د ترینو لهجې خپل وي او یا له پښتو ژبې سره ورته وي. په دغه متلونو کښي زما د علم سره سم ډېر زیات متلونه د هرنایي د خلګو سره اړه لري.

❖ "غوا مریوو پرې وه، سخا ما وته ایله کړ" (6)

ژباړه: مریو معنا مري قبائل، پرې وه معنا یووړه، سخا معنا سخوندر، وته ایله کړ معنا ور پرېښود.

یعني غوا چي کله مریانو یووړه نو سخوندر پاته شو. د ډېري خواشینی وروسته یې ور سخوندور هم پرېښود. ځکه هغه دا وئیل چي غوا یې یووړه نو سخوندر څه کوم.

پس منظر: د دغه متل تر شا پوره تاریخ پروت دی. ځکه چي د سو پېړیو مخکښي د هر نایي د خلګو او د مریانو ترمینځ ډېر جنګونه شوي دي. او دواړو خواو تاوانونه شوي دي.

په دې کښي د وخت تعین

اوس که دغه متل موږ له نورو پښتنو سره ورته کړو نو زه به دا ووایم چي دا د هرنایي د ترینو لهجې ځانګړی متل دی، ځکه چي د هرنایي په خواشاه په علاقو کښي له ډېر وخته مري قبیله

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03

پرته ده او ډېر زيات جنګونه يې له هم دغه باشنده خلګو سره کړي دي. د دغه جنګ په دوران کښې به کله مريانو د ترينانو يا د علاقې خلګو غواوې يووړې کله به ترينانو د هغوی غواوې راوړې. نو دغه متل هم پر دغه بنياد جوړ شوی دی.

❖ "وا خدايه مخيانيو خولې
ته مه جوړ مه کې" (7)

ژباړه: مخياني د سپين
ترينانو يو پښه ده. چي په هرنايي
کښي ژوند کوي.

يعني دا يو متل دی چي، که يو څوک يو کوشنی کار وکړي نو چي کله د مخيانيو خولې ته راشي نو هغه له ژوند نه بېزاره کړي. يعني هغه دومره به ملامتيا نه وي کړي لکه څنګه چي يې خلک په مخه واخلي او و خلګو خولو ته جوړ شي. او دومره لويه قيصه ځيني جوړه کړي. نو دغه متل په دي حواله وئيل شوی دی. دغه متل هم د هرنايي د خلګو ځانګړی متل دی. ځکه چي مخياني هم د سپين ترين يوه پښه ده. او دغه متل هم پر دغه اړه جوړ شوی دی.

❖ " ګوله ګوډي ګوله، شمزې يې خوره،
چوک يې پروله"(8)

ژباړه:

ګوله معنا شاربه، ګوډی معنا غړک،
شمزې معنا شړومبې، چُوک معنا کچي، پروله
معنا خرسوه.

يعني ګوډي (غړک) شاربه چي کله يې ځيني شړومبې او کُچي جوړ شي نو شړومبې په خپله وخوره او کُچي خرس کړه. په پخوا زمانه کښي به هم ګزاره هم دغه وه. دا خپله يو ډېر تاريخي پس منظر لري. ځکه چي له خلګو سره به د رزوي د ګټلو دپاره ذرايعې کمې وې او پيسه کمه وه نو بس هم دغه به ګزاره وه. د ښه ژوند د تېرولو دپاره لويه ذريعه وه. ځکه چي په هغه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

وخت کښې نه داسې کړکېچن حالات ؤ نه داسې پرېشانیانې وې په هم دغه کُچیو به یې ګزاره وه.

❖ "کمرکښ کُوندا مه زده ده، ادې کم کار مه مانده ده"(9)

ژباړه: کوندا معنا واګه، مانده معنا کمزوري یا نه دی زده.

چې کمرکش کوندا. کمرکش واګه د واګې یو قسم دی چې په هر ځای کښې نسته البته په هرنایي کښې یو قسم واګه جوړېږي چې هغه ډېر په ګراني سره جوړېږي. په دغه متل کښې یوه پېغله و خپلې مور ته وایي چې ما دغه قسم واګه هم زده ده نو بل به کوم داسې کار وي چې ما به نه وي زده. یعنې دغه کار چې به چا زده کړی. له دې څخه به دا معلومه شوه چې هغه به له یوه کاره مانده نه وه. یعنې د خپل پېغلتوب یې ور ښکاره کړئ دی.

د دغه متل په اړه به هم زه دومره ووایم چې دا متل د هرنایي ځانګړی متل دی. ځکه چې په دې متل کښې د واګې یو قسم ته اشاره شوې ده او هغه قسم واګه په نورو علاقو کښې نه جوړېږي. ځکه دا د هرنایي ځانګړی متل دی.

❖

ټپیان به ټېسن نې کسو"(10)

ژباړه: ټېسن معنا د رېل ګاړی سټېشن، نې معنا هلته، کسو معنا ګورو

معنا یې دا ده چې ټپیان به پر سټېشن ګورو. که چیري لږ په پس منظر ته لاړ شو نو د دې متل څخه دا ترلاسه کولای شو چې د هرنایي د خلکو د تګ راتګ یواځینی لاره رېل ګاړی وه. روډونه خبراب ؤ مشنري نه وه. نو بس هر څه چې به کېدل د رېل ګاړی له لارې به یې سیوی ته وړل.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03



❖ "ماته سپ توبی، زه یاړي تر ډاډره تر سیوی، سي اوا زړونه مه وکریښ ته لا نه یې د ډوډي" (11)

ژباړه:

توبی معنا تبی، یاړي معنا ولاړم، اوا معنا اویا، وکریښ معنا وکښل

په پخوا زمانه کښي به په کلیو کښي یو قسم ویره خپره وه چي په ترینو کښي ورته پریانه وئیل کېږي. چي پېړی هم ورته وایي. او هغه وخت د خلګو آبادي هم کمه وه. په هر کلي کښي به یوه پېړی/ پریانه ضروره وه. دغه پېړی/ پریانه د شپې په وخت پر کورونو ګرځېدله. او خلګ به ځیني بېرېده. په خاصه توګه د ماشومانو دپاره د مرګ سوب ګرځېده. ځکه چي په دې کښي دومره وهم ؤ چي د کوشني پر سر به یې لاس کښېښود نو ماشوم به له وېرې مړ شو.

دغه پریانه/پېړی چي کله په روزه کښي د شپې په وخت د ډوډی پخولو ته ناسته ده. نو تبی یې پر اور ایښي ده او په دا میان کښي پر پټ راغلی دی نو روانه شوې ده. بل کلي ته تللې ده چي څه وخت راغلې ده نو له تبی څخه اور مړ شوی دی نو دې بیا دغه خبره کړې ده چي ماته سپ توبی زه یاړي تر ډاډره تر سیوی، سي اوا زړونه مه وکریش ته لا نه وې د ډوډی

❖ " وا خدایه مخیانیو خولې ته مه مکې جوړ" (12)

ژباړه: مخیانې د سپین ترین یوه پښه ده.

کله کله جي یو کار څوک وکړي او هغه داسي کار وي جي په ټولنه کښي داسي نابلده ښکاري که څه هم ډېر زیات نابلده نه وي خو دغه خلک یې دومره تنګ کړي جي هر څوک ورته خبرې کوي. یعني هغه له ژونده نه بېزاره کړي. او هغه د احساس کمترۍ ښکار شي. نو اوس دا یو متل جوړ شوی دی جي یو څه وشي نو بیا وایي جي وا خدایه مخیانیو خولې ته مي جوړ مه کړې. یعني کله جي

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03



يو درته خلکو پام شي نو له ژوند نه څوک بېزاره کړي. دغه متل هم په دغه پس منظر کښې وئيل شوئ دی.

❖ "ماړه کسه ، هډ وته نسه" (13)

ژباړه: ماړه معنا سړی، کسه معنا ګوره، هډ معنا برخه، وته نسه معنا ورکوه.

د دغه متل معنا دا ده چې کله چې يو خيرات کېږي نو د خيرات په وخت د برخې جوړېدو په وخت بايد دا وکتل شي چې د کور غټ دی او د چا کور کوشنی دی. د هغه مطابق دې برخې جوړې کړل شي. دغه متل له نورو علاقو سره ورته لري.

دغه متل که څه هم د پښتو له نورو لهجو سره په مفهوم کښې سره ورته لري خو بيا هم په الفاظو کښې دير سره جلا دی. په پښتو کښې دغه متل داسي وئيل کېږي.

برخې وېشه مړونه ګوره

❖

ګپه څه تر ملکه سوه، بېړ نو ورکه سوه"(14)

ژباړه: ګپه معنا خبره، بېړ نو معنا بيا نو

يعني کله چې يوه خبره يا يوه ستونزه تر ملک پورې ورسېده نو هغه ستونزه به نوره زياته شي.

دلته د متل معنا دا ده چې څه کرې هغه به رېبې. يعني چې څه کوې هم هغه رنګه به درسره کېږي. که دې ښه کول ښه به درسره کېږي او که دې بد کول بد به درسره کېږي.

❖

کربه د ګنډېر، رنګ يې ښه عمل يې لېړ" (15)

ژباړه: کربه معنا ښائسته، ګنډېر يو قسم بوټی (درخته) ده ، لېړ معنا بې کاره

يعني ګنډېر په رنګ يوه ډيره ښائسته درخته ده خو په عمل کښې بې کاره ده. د بې کاره وجې يې بېلا بېلې کېدای شي. يوه وجه خو يې دا ده چې زموږ و خوا ته دا اسطوره ده چې د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلّہ

ګنډېر په درخته کښي پېريان دي. د ګنډېر و څنګ څوک نږدي نه ځي او که څوک ولاړ هم نه که ده ته د خدای له طرفه نه څه وشو نو ورته وايي چي دا په ګنډېر درخته کښي لوبي کولې، يا يې ګنډېر درخته ماتوله. يا د ګنډېر و څنګ ته ناست ؤ. بله وجه يې دا هم کېدای شي چي دا يوه داسي درخته ده چي نه يې حيوان خوري. نه د انسان په کار راځي.

❖

چرګ څه نه وي، بېړ آذان چا لوړ" (16)

ژباړه: بېړ معنا بيا، لوړ معنا ورکول

وايي که چيري چرګ نه وای نو آذان به کول. يعني په هغه وخت خو ماجت ؤ ليکن د ماجت لوډسپيکر نه ؤ. او بل دا چي خلګو کورونه له جومات نه ليري ؤ نو د سحار د لمانځه د پورته کېدو دپاره يو چرګ ؤ چي بانګونه به يې وهل.

❖

څه اوښان کې دروازې به لوی چينوې" (17)

ژباړه: کې معنا کوې، چينوې معنا ايږدې.

يعني څه اوښان ساتې به ورته لوی لوی ايږدې. مقصد يې دا دی چي د غټ خلګو د کشېنستلو په وخت، د غټ کاروبار کولو په اړه دا متل وئيل شوی دی.

❖

ما کونړا تا ته، تا کونړه ما ته، کونړا مه تنګړا ده، مېلمون مه لنګړا ده" (18)

ژباړه: کونړا معنا کټوی، ماته معنا ماله، تنګړه معنا کوشنی، مېلمون معنا مېلمه

يعني د چا کره مېلمه راغلی ؤ او د هغو پر کور چي کوم کټوی ؤ هغه کوشنی ؤ نو همسايه ته يې ږغ کړی دی چي دا ستاسو کټوی موږ له راکړی زموږ کره مېلمه راغلی دی. موږ کټوی کوشنی دی ای به تاسو له درکړم.

دغه متل هم د هرنايي د خلګو ځانګړی متل دی. ځکه چي په متل کښي کونړا که څه هم د پښتو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03


په نورو لهجو کښي ورته کټو وئيل کېږي او وجود لري خو دا کونړا (کټو) په هرنايي کښي خپل هنرمندان لري چي هلته په باقاعده توګه د خاورو لوښي جوړېږي."

❖

يه ويي، کور مه تر تا جار، بي وته واښ واچړ" (19)

ژباړه: يه ويي معنا يوه وئيل، بي وته معنا بل ورته، واښ معنا رسی، واچړ معنا واچول، واچوله

يعني يوه پر ږغ کړی چي زما کور تر تا جار، نو دا بل را ولاړ سو چي په کور کښي يې څه ؤ هغه يې ټول يوړو. يعني خپل ښه ورته بلا شو.

❖ "څه لېږدا دي بندڼ مندې لوی سو، غاښ يې مکسه" (20)

ژباړه: لېږدا معنا غوايی، بندڼ معنا غوجل، مکسه معنا مه ګوره.

يعني هغه غوايی چي د يو چا پر غوجل يا په کور کښي لوی شو د هغه غاښ کتل لازمي نه دي ځکه غاښ کتل دا دپاره وي چي ايا دغه غوايی د اختري قابله دی که نه. نو هغه غوايی چي پر کور لوی شي هغه خو معلوم دی چي د پنځو کالو دی که د لس کالو دی.

❖

پيار که دي ښه سړا ده، مېلمنو په لس يې هڼ کور ته نه د وړ" (21)

ژباړه: پيار معنا پلار، سړا معنا سړی، مېلمون معنا مېلمه، په لس معنا پسې، هڼ معنا برخه، يا ډوډی

يعني پلار دې که دې هر څومره ښه سړی دی خو د يو چا و کور ته يې غوښه يا ډوډی يا بل څه نه دي وړي. مطلب هر پلار د خپل اولاد دپاره ښه دی. د بل اولاد خيال ساتل ډير ګران کار دی. دغه متل که څه هم په نورو علاقو کښي شتون لري خو دا متل په هرنايي کښي هم ډير زيات کارول

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03

کېږي. د پښتو د نورو علاقو او لهجو سره به څه نه څه ورته ضرور لري.

❖

مرغان دې هغه ځای ته چينين، څه پرې يې اې ډول وين" (22)

ژباړه: چينين معنا کښېني، پرې معنا پرکي/وړکي، يه ډول وين معنا يو رنګه وي.

که په لږ پس منظر کښي ورته وګورو نو مطلب يې دا دی چي هر څوک له هغه چا سره کښېني چي له هغه سره همفکره وي. يا يې نږدې ملګری يا رښته دار وي. څکه رحمان بابا هم په دې هکله وايي چي

"چي يې فکر ستا له فکره
مخـــــــــــــــــــــالف وي
که سل کاله درسره وي اشنا نه
دی (23)"

❖ "هر سړا دې خپل نومه مندې يې که" (24)

سړا معنا سړی، مندې معنا پر، يې معنا ږغ، که معنا کوي

مطلب يې دا ده چي نوم اختسل يو شناخت دی. چي کله په يوه مجموعه کښي د يو چا نوم واخستل شي نو سم دستي هغه مخ راواړوي څکه د هغه نوم د هغه شناخت دی. اوس که دا ږغ وشي چي اې چاچا نو يو به هم ږغ ونه کړي څکه چاچا د چا نوم نه وي د چاچا به هم خپل نوم وي. او که هغه پوهه شو چي ما ته يې چاچا ووئيل نو خوا به هم بده کړي او دا به يې جواب وي چي زه خپل نوم لرم ته زما نوم نه شي اختسلی.

❖

زه څه تا سترګو ته کسي، کار دې کي کهل دې نسي.

❖

ه څه تا سترګو ته کسي، نزون دې کي کهل دې نسي" (25)

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03

ژباړه:

کسي معنا کتل، نزون، معنا کاشت کول، کهل معنا سترړيا/سترۍ، نسي ، نه يا نه کېږي.

په دې متل کښي ډېره د مينې او محبت خبره پټه ده. يعني يو محبوب و خپلې معشوقې ته وايي چي دغه سترړيا هيڅ سترړيا نه ده. چي يواځي ته راسره يې. زه که هر څومره کار کوم او هر څومره سترۍ يم خو چي ستا و سترکو ته کورم نو په ځان نه پوهېږم. او سترړيا بلکل محسوسوم هم نه.

حوالې:

1. فولکلور او فولکلوري ادبيات، پوهنوال احمد شاه زغم، ۱۳۹۴لمريز کال، ص۱۰
2. همدغه اثر، ص۱۴
3. پښتو متلونه، مُحَمَّد دين ژواک، خپرونکی: الازهر خپرندويه موسسه پيښور، ص۱
4. همدغه اثر،ص۱
5. د متلونو کيسي او نور معلومات، علم گل سحر ، ۱۳۸۷ د وري مياشت، ص ۸
6. خير مُحَمَّد، سيد، په ترينو لهجه کښي فولکلوري اصناف، جاپ کال دسمبر۲۰۲۱،ص۴۹
7. مُحَمَّد نور، مرکه، December,12,2023، وخت؛سحار 10:00بجي
8. خير مُحَمَّد، سيد، په ترينو لهجه کښي فولکلوري اصناف، جاپ کال دسمبر۲۰۲۱، ص۵۰
9. همدغه اثر،ص۵۰
10. مُحَمَّد نور، مرکه، December,12,2023، وخت؛سحار 10:00بجي
11. خير مُحَمَّد، سيد، په ترينو لهجه کښي فولکلوري اصناف، جاپ کال دسمبر۲۰۲۱، همدغه اثر،ص۵۰
12. مُحَمَّد نور، مرکه، December,12,2023، وخت؛سحار 10:00بجي

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

13. خير محمدؐ، سيد، په ترينو لهجه کښي فولکلوري اصناف، جاپ کال دسمبر۲۰۲۱، همدغه اثر، ص۴۷
14. همدغه اثر، ص۵۹
15. همدغه اثر، ص ۵۰
16. همدغه اثر، ص ۵۰
17. همدغه اثر، ص۵۱
18. همدغه اثر، ص۵۲
19. همدغه اثر، ص۵۳
20. همدغه اثر، ص۳۹
21. همدغه اثر، ص۳۹
22. همدغه ، ص۵۴
۲۳. د عبدالرحمان بابا ديوان، ترتيب و تدوين او څېړنه ،خليل، محمدﷲ، پروفيسر او قيس نيمروز،چاپ کال ۲۰۱۷، پښتو اکېډمی بلوچستان کوټه ، ص،۶۵۵
24. خير محمدؐ، سيد، په ترينو لهجه کښي فولکلوري اصناف، جاپ کال دسمبر، ۲۰۲۱، ص۵۷
25. همدغه اثر، ص۵۱